# Smittskydd Skåne

## د پټ نری رنځ یا سل ناروغی، د ناروغانو لپاره معلومات (2016-09-19)

**کله چې وقایوی درملنه نه کیږی.**
*د سرایت د مخ نیولو ډاکترانو د سرایت نه د ساتنی پانه*

**په کوم ډول ناروغی سږی ته سرایت کوی؟**
د سل ناروغی د هوا د لاری نه له یوه کس نه بل کس ته سرایت کوی. کله چه یو کس ساری سل ولری او ټوخیږی، نو هغه کسان چه د ده سره نژدی وی باکتریاوی د تنفس له لاری بدن ته داخلوی.

**پټ سل څه شی دی؟**
ټول هغه کسان چه باکتریاوی دوی ته سرایت کړی وی په سل ناروغی نه اخته کیږی. د اکثرو کسانو د بدن دفاعی سیستم د باکتریاوو د زیاتیدو مخه نیسی. باکتریاوی په بدن کی پرتی وی مګر فعالی نه وی. دغه حالت ته پټ سل وایی.

**پټ سل هیڅ کومه ناروغی نه ده**
که چیری د وینی د معاینی (IGRA-test) یا د پوستکی د معاینی (tuberkulintest) نه وروسته تا ته خبر درکړ شو چه ته پټ سل لری، دا په دی مانا ده چه ته په پوره توګه جوړ یی او ستا نه باکتریاوی نورو کسانو ته سرایت نه کوی. داسی یو خطر شته دی چه څه موده وروسته د سل ناروغی پرمختګ وکړی، مګر دا خطر لږ دی. په همدی علت په زیاتو حالاتو کی د هغه کسانو چه پټ سل لری کومه درملنه نه کیږی.

**په څنی حالاتو کی وقایوی درملنه کیږی**
څنی کسانو ته چه وروسته کیدای شی ناروغه شی د وقایوی درملنی وړاندیز ورته کیږی. تر ټولو نه د مخه دا کار د کوچنیانو او تنکی ځوانانو سره، د حامله ګی او زږولو په وخت کی، او همدا شان د بدن د کم زوری دفاعی قوی لرونکی د مثال په توګه د سرطان د درملنی، د انسولین درملنی شکری ناروغی او د بډوډو د ناروغی په صورت کی تر سره کیږی. همدا شان کله د هغه کسانو چه د سل په سرایت تازه اخته شوی، هم وقایوی درملنه کیږی.

**د ډاکتر سره تماس**
که په آینده کی تا ته د ډیری مودی ټوخی (له دریو اونیو نه زیاته)، د شپی خولی کیدل، تبه یا بیله خپلی خوښی نه ډنګرتوب پیدا شول، نو ته باید د ډاکتر سره تماس ونیسی تر څو د سل لپاره معاینه شی. همدا شان ته باید د ډاکتر سره تماس ونیسی که چیری ته حامله شوی یا د انسولین په وسیله د درملنی د شکری ناروغی، د بډوډو سخته ناروغی تا ته پیدا شوه یا دا چه د سرطان د درملنی په علت یا په کوم بل علت د ستا د بدن دفاعی قوه کمزوره شوه. په دغه حالاتو کی ته د سل په ناروغی د اخته کیدلو د یوه مخ پرزیات خطر سره به مخامخ وی.

**د تماس نیولو لپاره اطلاعات (*Kontaktuppgifter*)**

| |
|---|
| د کلینیک نوم(*Namn på mottagningen*) ............................................................ |
| د کلینیک د تیلفون شمیره/ کلینیک ته د تیلفون کولو وخت (*Telefonnummer/telefontid till mottagningen*) ............................................................................................ |